# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| | |
|---|---|
| مسائل ایدئولوژیک | Ideological |



دعبدالحّی حبیبی په اهتمام
ژباړونکی :درویش وردګ

۱۶ مارچ ۲۰۱۸

## السّوادُ الاعظم -۲۲

پښتوترجمه
تألیف :ابوالقاسم اسحاق بن محمّد بن اسماعیل بن ابراهیم بن زید حکیم سمرقندی
د ۳۷۰ هجری کال په شاه اوخوا دامیرنوح سامانی په فرمان فارسی ته ترجمه شوی

### دری څلویښتمه مسئله

داده: چې پوه شی چې مرګ حق دی اوپس له مرګه ژوندی کیدل هم حق دی.اوهرڅوک چې یی حق ونه بولی هغه دهری اوقرمطی او سپینو جامو واله دی. قوله تعالی: کُلَّ مَن عَلَیهَا فَانٍ وَّیَبقَی وَجّهُ رَبِّکَ. اوبل ځای فرمایی: کُلَّ شَیئٍ هَالِک اِلَّا وَجهَهُ. اوبل ځای وایی: مِنهَا خَلَقنَا کُم وَبِیهَا نَعِیدُکُم وَمِنهَا نخرِجکُم تَارَةٌ اُخری. اوبل ځای فرمایی: اَلَیسَ ذَالِکَ بِقَادِرٍ عَلَی اَن یُحیِیَ الموتَی.

زیرانکه هرکه بعث را منکرشود، کتاب خدایرا عزّوجلّ و نبوت رسول را صلی الله وسلم منکرشده باشد.

ځکه چې هرڅوک چې له بعثت څخه منکرشی، دخدای عزّوجلّ دکتاب اودرسول الله صلی الله علیه وسلم له نبوت څخه هم منکردی. اوبل ځای فرمایی: وَکَیفَ تَکفُرونَ بِاللهِ. اوپه دی هکله ایات اواخبارواجماع اوشواهد ډیر موجود دی. ولی همدومره بس دی هوښیارلره.

### څلورڅلویښتمه مسئله

داده:چې دقیامت ورځ حق ده، اودهغی راستٔ ګنل واجب دی. قوله تعالی: وَنُفِخَ فِی الصُورِ. اوبل ځای فرمایی: وَاِذاَ وَقَعَتِ الوَاقِعَه. اوبل ځای وایی: لِیَومِ الفَضلِ وَمَا اَدرایکَ مَایوَمُ الفُصل. اوبل ځای فرمایی: اِنَّ یَومَ الفَضلِ کَانَ مِیقَاتاً. اوبل ځای وایی: یَومَ یَفِرُّ الْمَرءُ مِن اَخِیهِ. اوبل ځای وایی: لِیَومِ عَظِیم، یَومَ یَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ العَالَمِینَ. اوبل ځای فرمایی: لَا تَأ تِیکُم اِلّابَغَتَةٌ. اوبل ځای فرمایی: لا اُقسِمُ بِیَومِ الْقِیمَة. اوبل ځای وایی: اَتَی اَمرُ اللهِ.

اما خبر دادی: چې رسول صلی الله علیه وسلم وویل: دقیامت په ورځ به بنده قدم له ځایه جګ نکړی ترڅو دڅلورو څیزونو پوښتنه تری ونشی اول: له عمرڅخه یی پوښتی چې په څه کی تیرشوی، په طاعت کی که په معصیت کی. بل له مال څخه یی پوښتی، چې له کومه یی ترلاسه کړی اوپه کوم ځای کی یی مصرف کړی؟ بل له ځوانی یی پوښتی، چې ځوانی یی په څه کی تیره شوی ، په طاعت که په معصیت کی؟

اودقیامت ورځ لویه ډار او ویری ورځ ده، اوټول مخلوق به لوځ وی، مګرهغوی چی پری حق تعالی فضل کړی وی چی بهشتی حلیی یی اغوستی وی. او وړی به وی مګر هغه ته چی حق تعالی دجنت خواړه پری وخوری او عایشه رضی الله عنها وپوښتل: چی دقیامت په ورځ به نارینه اوښځینه ټول بربنډ وی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: بلی یا عایشه! وویل: وای په دی رسوایی؟ رسول علیه الصلوة والسلام وفرمایل: یا عایشه! هغه ورځ له هیبت څخه ځوک نه پوهیږی چی دانردی اوکه ښځه. پس په دی معنی کی آیات او اخبار ډیر راغلی. ولی همدومره بسنه کوی دعقل خاوندته.

## پنځه ځلویښتمه مسئله

داده: چی یوه شی چی وتردری رکعته دی په یوه سلام سره اوهغه حق وګڼی. ځکه که ځوک وتریو رکعت کوی اویا دری په دوو سلامونو،په هغه پسی دامام ابوحنیفه رحمة الله علیه په قول لمونځ نه کیږی. اورسول علیه الصلوة اولسلام یوه ورځ وویل: ای یارانو! نن ورځ حق تعالی تاسو ته یو لمونځ درکړ، اوکرامت یی درکړی چی تاسوته ترهغی سوروییښتانو اوتورسترګو اوښانو څخه بهتردی. وویل: یارسول الله! هغه کوم دی؟ وویل: هغه دری رکعت وترلمونځ دی وروسته دعشاء له لمانځه ترسپیدوچاود پوری.

حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه روایت کوی: چی رسو ل علیه الصلوة والسلام وتر دری رکعته په یوه سلام سره اداءکړل اووروسته یی دری واری وویل: سُبحان مَلِکَ القُدوس.

اوعبدالله ابن مسعود رضی الله عنه روایت کوی چی: رسول الله صلی الله علیه وسلم وتر دری رکعت کول اوقنوت یی مخکی له رکوع ویل. اوپه خبرکی دی: چی دری رکعت دماښام دورځی وتردی، اودری رکعت وروسته دنمازخفتن څخه دشپی وتر دی. اورسول علیه الصلوة والسلام وتردماښام له لمانځه سره ورته کړل.

او ابو سلمه روایت کوی: چی رسول علیه السلام وتر دری رکعت وکړل په یوه سلام. اوبی بی عایشه رضی الله تعالی عنها روایت کوی: چی رسول علیه الصلوة والسلام وتر دری رکعت کړی دی. په اول رکعت کی یی سوره اعلی(سبح اسم ربک الاعلی) په دوهم رکعت کی سوره کافرون اوپه دریم رکعت کی سوره اخلاص ویلی ده.

او عبدالله ابن مسعود رضی الله عنهما روایت کوی: چی رسول علیه السلام دمیمونی په کورکی چی درسول الله خاتونه وی ویده و. پاڅیده اوپه شپه کی یی دوتر لمونځ دری رکعت اداء کړ په یوه سلام . اوټول صحابه په دی سره راټول شول، مګرهغوی چی غائب و.

اومحمد ابن کعب فرظی وایی: رسول علیه الصلوة والسلام له بتیراء څخه منع کړی ده اوبتیراء یو رکعت لمونځ دی اوځینی صاحبه او تابعین او امامان او ابدالان چی په دی لاره و یاد کړو.

لومړی به هغه کسان یاد کړو چی رسول علیه الصلوة والسلام دوی ته دجنت زیری ورکړی. ابوبکر صدیق اوعمر فاروق اوعثمان بن عفان اوعلی بن ابی طالب اوطلحه اوزبیر اوعبدالرحمان بن عوف وسعد بن وقاص اوسعید ابن زید او ابو عبیده بن رجراح رضی الله عنهم اجمعین.

اونوریاران لکه: عبدالله ابن مسعود اوعبدالله ابن عباس اوجابر ابن عبدالله انصاری اوعقبه ابن عامر اوعمران الحصین او عبدالله ابن شداد اوبوذرغفاری او حسن اوحسین او اسود ابن یزید او ابی ابن کعب اوحارث ابن قدام او معاذ ابن جبل اوحذیقه الیمان او انس ابن الیمان او انس ابن مالک او سلمان فارسی او بلال او ابوبکر او ابو ایوب انصاری او ابو امامة الباهلی ووائل ابن حجر او عایشه او حفصه او فاطمه الزهرا او عبدالله بن زید او ابوبکر اوحارثه او براء بن حارث او جابر بن سمره او جریر ابن عبدالله انصاری او سهل ابن سعد الساعدین او عبادة ابن

صامت اوعبدالرحمن جبر او نعیم ابن سلام او اوس بن ابی اوس او ابو نجیح السلمی او عبدالله ابن جواد او ابو موسی الاشعری او عکرمه وقثم ابن عباس وعدی ابن حاتم او عباس ابن ابی ربیعه او عبدالله ابوشهاب المخزومی او مطیع ابن الاسود او عبدالرحمن ابن صفوان او عبدالرحمان جبر او اسود ابن خلف او کیسان اوخباب الارت او سهلیه ابن عمار ابن یاسر او عامر ابن ربیعه او ایاس ابن بکیر او ارقم ابن ارقم اوقدامه ابن مظعون اوعکاشه ابن محصن او سنان ابن ابی سنا او عبدالله ابن سفیان اوطفیل ابن حارث او محمد ابن حارث اومحمد ابن اسلم او عبا ابن بشر او قتاده ابن نعمان الانصاری رضی الله عنهم اجمعین.

داتول درسول الله صلی الله علیه وسلم یاران دی چی ویلی یی دی: مونږمومنان یو په حق سره، او ایمان نه ډیریږی اونه کمیږی. اودامام حدث ، حدث دی اومسح به موزو حق ده. او په امام پسی قران مه وایی اولاسونه مه پورته کوی(رفع یدین) مگر په اول تکبیر پسی. او وتر دری رکعت وکړی په یوه سلام لکه دماښام دلمانځه. اوکله چی وینه راشی نو اودس تازه کړی. ځکه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم مو به همدی لاره او طریقه سره ولیده.

اما تابعین لکه حسن بصری رحمة الله علیه چی ویلی دی: دری سوه کسه می درسول الله صلی الله علیه وسلم له یارانو ځخه ولیدل چی له دوی ځخه اویا تنه یی بدری و، اوماته یی حدیث درسول علیه الصلوة اولسلام وویل: ژبه له هغی ځخه وساته چی وایی: لااِله الاّالله. دزړه په خلوص سره. اوڅوک په گناه کافر مه بوله. اودنیکی اوبدی تقدیر له خدای عزّوجلّ ځخه وگڼی.!

اودوی ټولو روایت کړی له رسول الله صلی الله علیه وسلم ځخه: چی هرڅوک چی داهل قبلی له ډلی ځخه مړشی که لوی وی یا کوچنی،په هغه لمونځ(دجنازی لمونځ) اداء کړی.

اورسول علیه الصلوة والسلام وویل: ماته فرمان شوی چی له کفارو سره مبارزه وکړم ترڅو ووایی: لآاِلهَ الاّالله محمّد رسول الله. اوکله چی دا ووایی نوخپله وینه له ما وساتی. اوددوی حساب اوکتاب دخدای عزّوجلّ په لاس کی دی. اوټولو وویل: چی ایمان قول دی په خوله اوپیژندل دی په زړه. اوعمل او شرایع له ایمانه دی ولی ایمان ندی. او وویل : په هرنیک اوبد پسی لمونځ وکړی. اوداميرانوپه وړاندی توره مه راباسی اوپه خپل ایمان کی په شک کی مه اوسی. ځکه هرڅوک چی په خپل ایمان کی په شک کی وی هغه کافردی.

اما تبع تابعین لکه: محمد ابن کعب قرظی او عطاء ابن ابی رباح او عوان ابن عبدالله اوعلی ابن الحسین ابن علی او محمد ابن جعفر ابن محمد الصادق اوعمر ابن عبدالعزیز او داؤد او شریح او سیغان او ربیع ابن خیثم او کعب الاحبار او وهب ابن منبه او محمد ابن واسع او مالک دینار اوثابت بنانی او محمد ابن المنکدر او ایوب السختیانی او علقمه او شاذان بازان او ابراهیم النخعی اوامام الائمه ابوحنیفه او ابویوسف اومحمد ابن الحسن اوزفر او حسن ابن زیاد او عبدالله ابن مبارک. او اوو سوو له تابعینو اوتبع تابعینو ځخه داسی ویلی: چی مونږ مومنان یو په حقه. اوپه امام پسی قرآن نه وایو. او وتر دری رکعت کوو په یوه سلام، اوقامت دوه کوو اودامام حدث، دځان حدث بولو. اوایمان نه کمیږی اونه ډیریږی. اوپه هرنیک اوبد پسی لمونځ کوو. اوهرڅوک چی داهل قبلی ځخه په گناه ووینو هغه کافرنه بولو.په موزو باندی مسح کوو. اوپه لږو اوبو چی ولاړی وی اودس نه کوو.ځکه چی درسول الله صلی الله علیه وسلم اصحاب مو په دی لاره موندل، اوهغه کسان چی زمونږ په دوی درست و او اوس هم په دوی درست دی.

اوله فقهاواو صالحینو ځخه: لکه احمد حرب نیشاپوری او احمد حفص او احمد ابن جعفر او محمد ابن قابیل او عصام ابن یوسف او شداد حکیم او خلف ایوب او داؤد معاذ او علی ابن اسحاق او علی ابن حکیم ابن جعفر او شیخ ابولیث سمرقندی او ابوحفص صغیر بخاری او عبدالله ابن سلمویه ابن یزید القاضی او عبدالله ابن جعفر ابن حفص او

ابوعبدالرحمان ابن ليث؟ او ابويعقوب الاباد او ابوسليمان الجوزجانی او ابوعمر الضرير او ابولقاسم الصفار او ابوبکر الاسکاف او ابو نصر محمد ابن سلام او ابو عبدالله محمد ابن سلمه او ابواحمد ابن العياضی او ابوبکر ابن اسمعيل او احمد ابن ابراهيم الضرير او ابو حسن النقاد.

همدارنګه ځلورسوه تنه دخراسان او عراق امامان هم په همدی لاره و چی ياد موکړل، ټول هدی امامان اوددين بزرګان اودامت پيشوايان.

اما زاهدان او ابدالان اوعابدان لکه:

صالح مری اوذوالنون مصری او فضيل عياض او ابوبکر وراق ترمذی او احمد حضرويه او ابوبکر الواسطی او ابويزيد بسطامی او ابراهيم الادهم او شقيق ابراهيم او حاتم اصم او اسلم الزاهد او حامد اللفاف او معاذ النفسی او ابراهيم سمرقندی او عمرابن اعجالان او ابوعمران او ابوعبيده او ابو ذکريا او حسين واسطی او عبدالله انطاکی او عتبة الغلام او احمد نصرعتکی او ابوعتيان الزاهد او ابوبکر المليله او صالح الاسو او اوابوبکر الاصم اوحساد البخاری او عمرالمهاد احمد برم او يوسف العراقی او ابواحمد ابن محمد البزاز او ابولقاسم الحکيم السمرقندی.

همدارنګه يی وويل: چی مونږمومنان يو په حق سره، او وتر دری رکعت کوو په يوه سلام اوپه خپل ايمان کی په شک کی نه اوسو اوايمان کميږی اوډيريږی نه. او قامت دوه ګونه کوو، اوپه امام پسی قرآن نه وايو، اوپرته له لومړی تکبيرڅخه لاسونه نه پورته کوو. اوهيڅ يوه داهل قبله ته خبره نه کوو مګر په خيرسره، اوټول له خدای عزّوجلّ څخه ويريږو اوهغی ته اميد اوهيله لرو. اودعراق اوخراسان ټول علمامو په دی طريقه وموندل اوټول هغه کسان چی وينا اوقول يی مقبول و.اوچالره دومره جرائت(زهره) شته چی ددی مخالفت وکړی،مګرمبتدع اوهوادار اوياضال وی. اوپه دی هکله ډيرڅه سووه خبرونه شته. مګرهمدومره بس دی هوښيارلره.